# "د رڼاګانو سنګسار" په هنداره کښې د قامي احساس تجزياتي مطالعه

# An Analytical Study of National sentiment in the lens of "Dh Ranragano Sangsaar"

Ibad Ur Rahman*
Dr Nagina Bibi**

Abstract:

"This article has explored, identified and analyzed Dr. Alikhel Daryab's nationalist sentiment through the lens of his poetry, the "Dh Ranragano Sangsaar." It is the fifth poetry collection of Dr. Alikhel Daryab, published in 2022. This collection consists entirely of ghazals and comprised of 208 pages. The introduction to this book is written by Dr. Hanif Khalil and Dr. Barkat Shah Kakar, and the flap is written by Dr. Muhammad Zubair Hasrat. This poetry collection, on the one hand, has a poetry full of purpose filled with eloquence on one hand, and has a romanticism on the other, giving the readers a pleasant aesthetic feeling. In addition, this poetry collection has many other topics, but national consciousness, feeling, and psychology are abundantly visible.

**Keywords:** Nationalism, Dh Ranragaano Sangsaar, Dr. Ali Khel Daryab, Pashto Poetry, Pashtun Culture.

د رڼاګانو سنګسار د ډاکټر علي خېل درياب صاحب پينځمه شعري مجموعه ده چې په کال ۲۰۲۲ء کښې چاپ شوه ـ دا ټولګه ټول په ټوله غزلونه لري او پوره په ۲۰۸ مخونو مشتمله ده ـ دې کتاب باندې سريزې ډاکټر حنيف خليل او ډاکټر برکت شاه کاکړ ليکلې دي او فليپ پرې ډاکټر محمد زبېر حسرت ليکلے دے ـ چې د دوي د فن ستائينه او رسا ادبي مقام ټاکنه په کښې شوې ده ـ د دې نه علاوه د "رڼا" په نوم د ډاکټر علي خېل درياب صاحب خپلې خبرې ليکلې دي ـ

د کتاب نوم په معنوي ډول ډېر وسيع مفهوم لري ـ ځکه چې رڼا يو داسې مظهر دے چې د کائينات ټول نظام پرې ولاړ دے ـ د نړۍ ګڼ شمېر مذهبونو ، کلتورونو او ټولنو کښې

* Lecturer in Pashto, GPGC Timergara Dir Lower.
** Lecturer in Pashto, Pashto Department, AWKUM.

رڼا د نېکۍ د پاره د حوالې په توګه او د تيارې په ضد پکارولے کېږي.

"رڼا" د ژوند، معبود، نېکۍ، نمانځلو،لاربښودنې،پوهې او حکمت، اميد او رښتيا د پاره د علامت په ډول استعمالولے شي. د قراٰن مجيد په سوره النور ايت نمبر **۳۵** کښې د الله پاک ذات مبارک ته د اسمانونو او زمکې نور (رڼا) وئيلے شوي دي. په خپله ډاکټر علي خېل درياب صاحب هم رڼا د درک او ادراک علامت، علم، پوهې، شعور او د عرفان سر چينه ګڼلې ده.[i] داسې کۀ څوک د رڼا دشمن دغه قسم رڼاګانې وژني يا ئې سنګساروي نو په ردعمل کښې به خامخا داسې شاعري تخليق کېږي چې د رڼاګانو د تحفظ وکالت او دلالت به کوي.

دا شعري مجموعه کۀ يو خوا د مقصديت نه ډکه شاعري لري چې د تغزل په خوږو لړلې شوې ده نو بل خوا رومانيت هم لري چې مونږ ته يو خوندور جمالياتي احساس راکوي. د دې نه علاوه دا شعري ټولګه سياست او نورهم ګڼ شمېر موضوعات لري خو قامي شعور، قامي احساس او قامي نفسيات په کښې په کثرت سره تر سترګو کېږي. درياب صاحب د خپل قام ټولنيز ژوند ته د هرې زاويې نه ښه په ژور نظر سره کتلي دي. ډاکټر حنيف خليل صاحب د دوي شاعري د ژبې، کلتور او سياست تِکون بولي او د قام او اولس مرکز ئې ګڼي:

> "ډاکټر علي خېل درياب د قامي شعور په دغه ترجمانۍ کښې د پښتو ژبې، د پښتو فلسفې او د پښتنو د ټولنيز ژوند ټولې زاويې خپل غزل کښې رانغښتې دي. ګويا هغۀ د ژبې، کلتور او سياست درې ګُټيزو دائرو کښې مزل کوي او د ټولنې نه خپل غزل له اجزاء اخلي. خو د توجو مرکز ئې خپل قام او اولس دے."[ii]

په دې مقاله کښې به "د رڼاګانو سنګسار" د شاعرۍ په هنداره کښې د ډاکټر علي خېل درياب صاحب د قامي احساس لټون، نشاندهي او تجزيه وړاندې کولے شي. خو د ټولو نه اول د قام/قوم او قوميت د بحث سپيناوے ضروري دے.

هسې خو قوم ته په انګرېزۍ ژبه کښې "Nation" وائي کوم چې د لاطيني ژبې د "Nasci"، "Nat" او "Natio" نه وتلے دے او معنیٰ ئې "زېږېدنه" ده. خو په اصطلاح کښې د يو ټولګي هغه وګړي چې يوه ژبه وائي، په يوه علاقه، ځاے او ټولنه کښې اوسېږي، کلتور

او مذهب ئې يو وي، قوم "Nation" بللے شي۔ قوم لفظ په خپلو معنو کښې ډېر وسعت لري ـ مونږ ئې د عربۍ ژبې "قام" دے او قيام، قوم او قوام ريښې لري ـ چې د ټيکاوېدلو، علاقې او پېوستون معنې ترې رادوڅاره کېږي ـ انسائيکلوپيډيا د "Nation" په تعريف کښې داسې ليکي:

> "A Nation is a community of people formed on the basis of a combination of shared features such as language, history, ethnicity, culture and/or society."[iii]

سټالن (Joseph Stalin) د قوم تعريف په دې ټکو کښې کوي:

"کسی قوم کے لئے ضروری ہے کہ اس کی زبان ہو، اس کا مخصوص علاقہ (سرزمین) ہو اور اس کی مشترکہ معاشی سرگرمی یا مشترکہ مفادات ہو۔"[iv]

کۀ څۀ هم د قوميت "Nationalism" تاريخ دومره زوړ دے څومره چې انساني تاريخ او تمدن پخوانے دے ـ خو بيا هم جديد قوميت "Modern Nationalism" د انقلابِ فرانس (۱۷۸۹ء) نه پس د نولسمې صدۍ عيسوۍ په نيمائۍ کښې په وجود کښې راغلے دے ـ ځکه چې د فرانس انقلاب په جرمني، اطالوي او يورپي دانشوارانو ژوره اغېزه اوکړه او د نړۍ په نقشه د قوميت په بنياد ملکونه او رياستونه په وجود کښې راغلل ـ

په اسلام کښې هم د قوميت تصور شته او په قرآن مجيد کښې الله تعالیٰ فرمائي چې " مونږ تاسو د نر او ښځې نه پېدا کړئ او په ډلو او قبيلو کښې مې تقسيم کړئ، د دې د پاره چې تاسو وپېژندے شئ ـ ګنې په اصل کښې د الله پاک په نزد غوره ښوک هغۀ دے چې د ټولو نه زيات متقي وي ـ بې شکه الله پاک په هر څۀ پوهه او خبردار دے "[v]ـ

په دې خبره کښې هېڅ شک نشته چې د اسلام په نظر کښې ټول انسانان يو شان دي خو په لويه پېمانه اسلام د قوميت نظريه وړاندې کوي او چې د نړۍ په کوم ګوټ کښې هم يو انسان په دينِ اسلام کښې داخل شي نو "مسلمان" بللے شي ـ او ټول مسلمانان يو اُمّت او قوم ګڼلے شي ـ په نورو ټکو کښې مونږ داسې وئيلے شو چې اسلام د قوميت د يو عنصر نفي هم نۀ کوي خوا کۀ هغه يو ځاے اوسېدل دي کۀ ژبه، تهذيب او ثقافت دے او کۀ مذهب خو ورسره د بل قام سره د عصبيت لرلو غندنه هم کوي ـ

قوميت مثبت او منفي دواړه اړخونه لري ـ مثبت اړخ خپلول او منفي رويې پرېښودل پکار دي ـ دلته د قام سره په مينې، مرستې او طرفدارۍ کښې دا خبره هم د يادولو وړ ده چې

د بل قام د ازادۍ، خودمختارۍ او عزتِ نفس خيال په هر حالت کښې ساتل ضروري دي.

اوس کهٔ په دې پېمانه باندې د ډاکټر علي خېل درياب صاحب شعري او غزليه مجموعه "د رڼاګانو سنګسار" وتلو نو داسې ښکاري چې زياتره برخه ئې خپل قام ته وقف کړې ده. درياب صاحب په خپل قام، ژبه، وطن او کلتور بې شانه ډېر مئين دے. هغوي خپل قام ته د اتحاد او اتفاق درس ورکوي او ورته د پرمختګ او روښانه سباوون لمسه ورکوي.

اګر چې د دوي په غزل کښې ګڼ موضوعات په نظر راځي خو د خوښې موضوع ئې قوميت ده او په غزل کښې ئې پرېمانه شعرونه په موضوع ليدے کېږي. دوي په غزل کښې د قام غمونو او پښتني شعور او احساس له ځاے ورکول د وخت هدف او ضرورت ګڼي. دغه احساس دوي ته په خپله هم شوے دے او مونږ ته هم دغه احساس راکول غواړي ځکه خو ورته بار بار او ځاے په ځاے په ګڼو شعرونو کښې اشارې کوي. يو څو شعرونه ئې دلته رانقل کول ضروري ګڼم او بيا ورپسې د قوميت د ضروري عناصرو په حقله بحث کؤم:

"هر څو کهٔ څېړم په غزل کښې مختلف موضوعات
خوند نهٔ کوي بله موضوع د قوميت نه سېوا" [vi]

"د قامي احساس د روح سازونه چېړي
د شپونکي د سوز شپېلۍ ته سوچ کښې لاړم" [vii]

"دريابه تا د خپل غزل غېږ ته رانويستل
د قوميت د شواخون د زړهٔ چاودون رنګونه" [viii]

"دريابه ذکر په کښې کومه د قامي الميو
زهٔ خو به ليکم د غزل نه مې څوک نهٔ شي نيوے" [ix]

"هر سړے اور د خپله سره وژني
درياب اخيستے د قام غم لېونے" [x]

په يو ځاے اوسېدو سره د يو قام د وګړو په خپل مېنځ کښې مينه پېدا کېږي او د زړونو رشتې مضبوطې شي. په نورو ټکو کښې مونږ داسې وئيلے شو چې د يو قام د پاره د ټولو نه اهم څيز د هغوي جغرافيه ده. د نړۍ د نورو قامونو په څېر پښتانهٔ هم ځانګړې

جغرافيائي حدود لري چې مونږ ورته د پښتنو مسکن او وطن وئيلے شو۔ دا وطن د دريا ے امو نه واخله تر اباسين پورې غزېدلے د ے۔ چې د حالاتو د جبر له وجې ټکړې ټکړې شو ے د ے او په مختلفو انتظامي برخو کښې وېشلے شو ے د ے۔ د درياب صاحب په شاعرۍ کښې ځا ے په ځا ے د دغه جغرافيائي حدونو پلؤ اشارې شوې دي۔ دوي د پښتنو ټوله منطقه په پښتونخوا يادوي۔ د کومو ځايونو نومونه چې مونږ ته د دوي په شاعرۍ کښې په نظر راځي نو په هغې کښې ملاکنډ، مُوره، کابل، قندهار، پېښور او تورخم د يادولو وړ دي۔ دلته "د رڼاګانو سنګسار" نه يو شعرونه د نمونې په توګه وړاندې کووم:

"پـــه زړۀ مـــې ليــک دي د کابــل او قنــدهار خـــاطرې
مـــا هلتـــه کـــړې د پښـــتو او د پښـــتون تماشـــه" [xi]

"مخبـــران بـــه د بـــابر پـــرې ښنګـــه ور شـــي
يوســـفزي ورتـــه چمتـــو ناســـت پـــه مـــورۀ دي" [xii]

دا پـــه ډانـــګ د بېلېـــدلو اوبـــۀ نـــۀ دي
د کابـــل او پېښـــور داســـې تـــړون د ے" [xiii]

"چـا پـه قتـل ګـاه کښـې کـړه بدلـه پښـتونخوا زمـونږ
لـــږ پـــه ســـنجيده ډول د دې پـــه اړ خبـــره کـــوؤ" [xiv]

"يـــوه کـــوچۍ ببرتـــه کابـــل تـــه تلـــه خـــو دا ئـــې وئيـــل
بـــس د ګلونـــو پېښـــور پســـې مـــې زړۀ خفـــه د ے" [xv]

"کـۀ پـه تـورخم کښـې راتـه بريـد وهـي کـۀ تـار تـړي خـو
په غـم ښـادۍ کښـې د کابـل نـه مې څوک نۀ شي نيو ے" [xvi]

"يـــو شـــان مـــې زړۀ پـــه قنـــدهار او پېښـــور کـــوي درد

سخته دې خدایه چرته چرته په کابل نهٔ راځي" [xvii]

"چې مات شي خامخا به زمونږ غاړې ته راځي نو
کابل خو زمونږ لاس دے نو د لاس سره به څهٔ کوو" [xviii]

"د پښتونخوا په کوم یو ګُټ کښې چې چاودنه اوشي
داسې ګڼم لکه په کور کښې مې دننه اوشي" [xix]

د قومیت د تړولو نه اهم توکے ژبه ده . هر کله چې یو قام په یوه مخصوصه منطقه کښې ژوند کوي نو خامخا به یوه ژبه هم لري . او دا ژبه ده چې دغه قام په خپلو کښې ښهٔ په اسانه رابوځاے کوي او یو موټے ترې جوړوي . د ژبې اهمیت د قرانِ پاک نه هم ثابت دے . ژبه د یو قام د تشخص ښکاره نخښه ګڼلې شي . پښتو زمونږ قامي ژبه ده او د ټول پښتون قام د پېژندګلو الهٔ او اثاثه ده . ځکه خو دریاب صاحب د خپلې پښتو ژبې او پښتني کلتور ګټلو د پاره جنګ راتړلے دے . او دا د دې د پاره چې پښتانهٔ په ټولې نړۍ وپېژني . خو د خپل قام نه په دې حقله ډېر ګِله مند ښکاري ولې چې پښتانهٔ خپلې ژبې ته په خپله سپک ګوري او د دې ژبې په لار کښې خنډ جوړېږي . د دریاب صاحب پښتون قام د پښتو نه منکر دے او هم دا ئې د بد بختۍ ښکاره جاره ثبوت دے . دوي د خپل نوي نسل د پښتو ژبې نه وېزاري صرف او صرف د تربیت او روزنې کمے ګڼي . خو بیا هم د یو شاعر په حېث د امید لمن نهٔ پرېږدي او وائي چې پښتانهٔ به خپل مرام ته هله ورسي چې د خپلې پښتو ژبې سره ژمنه اوکړي . د ګډ احساسات په دې لاندینو شعرونو کښې په دې ډول وړاندې کوي:

"دریابه ژبه او کلتور ګټه
ما راتړلے د پښتو جنګ دے" [xx]

"لا خو به دریابه پښتانهٔ په نړۍ پېژنو
لا به د پښتو د فلسفې په اړ خبره کوؤ" [xxi]

"د پښتو سره په خپله دشمني کړي
زړهٔ مې چوي چې د پښتون خبرې اورم" [xxii]

"دا نـــوے نســـل چـــې د ســـره پښـــتو نـــۀ پېژنـــي
کمـــے د ځـــۀ دے د روزنـــې تربيـــت نـــه ســـپوا" xxiii

"پـــه خپلـــه ژبـــه، خپـــل کلتـــور بانـــدې ســـرونه شـــيندي
د ژونـــد پرســـتو پښـــتنو سلســـله ختمـــه نـــۀ ده" xxiv

"پښـتو بـه خپـل مـرام تـه ورسـي خـو شـرط دے پـه کښـې
کـــۀ د پښـــتو او پښـــتنو تـــر منيځـــه ژمنـــه اوشـــي" xxv

د قوميت بل ځانګړے عنصر تهذيب او ثقافت دے۔ د ژوند تېرولو هغه ټولې لارې چارې چې د يو قام د بقا د پاره ډېرې ضروري وي۔ دا هغه قدرِ مشترک دے کوم ته چې سټالن "معاشي سرګرمي" يا "مشترکه مفادات" وئيلي دي۔ د هر يو قام کلتور او تمدن د بل قام نه بدل وي او دغسې دا توکے هم د قام په پېژندګلو او منفرد کولو کښې اهم رول لوبوي او د هغوي د ټولنيز نفسياتو او کردار نمائندګي کوي۔

د پښتون قام کلتور هم ډېره رنګارنګي لري۔ ډېر مثبت اړخونه لري چې د ټولنيز ژوند هر ګوټ پېر ئې رڼا کړے دے۔ د ډاکټر علي خېل درياب صاحب " د رڼاګانو سنګسار" په کلتوري هيندار کښې دغه ټول اجزاء مونږ ته په نظر راځي۔ دوي د خپل کلتور د تحفظ وظيفه د خپل شعر په ذريعه تر سره کوي۔ کله کله د خپل کلتور نه د بې خبره او قام شرمه اولس په حال باندې طنز کوي۔ دوي د قلم په ذريعه د خپل اولس د تهذيبي بحران مخ نيوے کوي۔ د جمات او حجرې مسخ شوي صورت له نوي رنګونه ورکوي، د جرګې په ذريعه د پښتون کور د راټولولو خبره کوي او د پښتني قدرونو په قدرولو کښې تر هر يو حده رسېږي۔ د خپل کلتور سره د بې شانه مينې په احترام کښې ئې دا يو څو منتخب شعرونه وځيرئ۔

"جرګـــه ګـــورے د کـــور پـــه کلـــي نـــۀ شـــي
جرګـــه شـــئ، مرکـــه شـــئ او پـــه کـــور خبـــره اوکـــړئ" xxvi

"جرګـــه شـــئ، مرکـــه شـــئ د خپـــل ځانـــه رابهـــر شـــئ
دې قـــام تـــه د راپېښـــو کشـــالو ســـره بـــه څـــۀ کـــوو" xxvii

شکر دے مونږه حل کوو مسئلې خپله خپلې
شکر دے دلته د جرګو خبره ختمه نۀ ده" xxviii

"پت او ښېګړه، توره، ننګ او وفا
دریابه دا د پښتنو لارې دي" xxix
"په ننواتې باندې مرې بخښي
ده د پښتو د روایات فلسفه" xxx

"مونږ چې هر څۀ د ملا منو دا به مني زمونږ
چې د حجرې نه به شپېلۍ، منګے، سیتار نۀ ووځي" xxxi

"د پښتني قدرونو قدر دے کۀ هر څنګه دے
د ښۀ د بدو د بدل نه مې څوک نۀ شي نیولے" xxxii

د قومیت بل اهم جُز مذهب دے. د مذهب په نوم یو قوم ډېر زر او په اسانه راټولېږي او یو موټے کېږي. او بیا پښتون داسې قام دے چې مِن حېث القوم مسلمان دے او په مذهب باندې د جنون تر حده مئین دے. د دریاب صاحب د وجود په رګ رګ کښې د مذهب دغه مینه غورځنګونه وهي. ځکه خو ئې ټوله شاعري د یو مسلمان شاعر لګي. دوي یوازې د مذهب سره مینه نۀ لري بلکې مونږ ته هم دعوت راکوي چې د مادیت او ځان ځانۍ په دې تیارۀ دور کښې روحانیت ته توجه اوکړئ او خپل نفس د هر قسم غلاظتونو نه پاک کړئ.

"په مادیت کښې تر مرۍ پورې ښخ شوي خلقه
تزکیه نفس، روحانیت ته پاملرنه اوکړئ" xxxiii

دغه شان د یو قام د معاشي تړون د پاره د ټولو نه غوره لار د هغوي ځانګړے اقیصاد وي. کله چې یو قام په اقتصادي توګه خپلو کښې په رابطه لري نو هغه ژوندے وي او چې اقتصاد خور وور وي نو بیا هغه قام هم منتشر وي. ځکه خو د نړۍ د حکومت واګې په اقتصادي توګه مضبوط قامونو په خپل لاس کښې اخیستې دي. خو د بې سواده پښتنو

د قسمت او اقتصاد اختيار د هغوي نه تروړلے شوے دے ـ د ډاکټر علي خېل درياب صاحب په شاعرۍ کښې دې لورې ته هم ځاے په ځاے ځۀ پټې او ځۀ ښکاره اشارې شوې دي ـ خو دوي د دې هر ځۀ علت پښتون تشخص ګڼي او علاج ئې په دې ډول وړاندې کوي:

"دا نـــوے نســـل خـــو پښـــتون تشـــخص پېژنـــي نـــۀ
دې نـوي نسـل لـه پـه ذهـن بانـدې کـار پکـار دے" xxxi v.

د دې ټولو خبرو په رڼا کښې مونږ دې نتيجې ته رسو چې ډاکټر علي خېل درياب صاحب په بنيادي توګه پښتون قام پرست شاعر دے ـ او د پښتون اولس د پت، ښېګړې، تورې، ننګ او وفا خبرې کوي ـ په خپل پښتون قوميت او تشخص وياړ کوي او په خپله مورنۍ ژبه "پښتو" ناز کوي ـ د دوي په شاعرۍ کښې د پښتون وطن سره د مينې او خلوص نه ډک پښتنے احساس په موجونو دے ـ درياب صاحب د نورو شمله ورو پښتنو په ځېر په اسلام او پښتو مئين دے او د ټولې نړۍ د ښېګړې د پاره نېکې جذبې لري ـ

"د رڼاګانو سنګسار" د ډاکټر علي خېل درياب صاحب د "کرونا" وبا په دوران کښې تخليق شوې هغه غزليه شاعري ده چې په کښې د خپلې خاورې، ژبې، کلتور او تاريخ په حقله خوندور خيالات او احساسات په ډېره نفيسه ژبه او لطيفه پېرايه کښې بيان شوي دي ـ دوي په شعوري توګه خپل غزل د قوميت موضوع ته وقف کړے دے ـ د نوي نسل د روزنې او بېدارۍ هڅه ئې کړې ده ـ په هر لحاظ ئې ځان يو قوم پرست ثابت کړے دے او د پښتون د بائيللي قومي تشخص د بيا موندلو او د شناخت ترلاسه کولو په لړ کښې ئې خپله غاړه ازاده کړې ده ـ

# حوالې

[i] درياب، علي خېل،ډاکټر، د رڼاګانو سنګسار، اعراف پبلشرز، پېښور، ۲۰۲۲ء، ص ۲۵

[ii] هم دغه اثر، ص ص ۱۴، ۱۳

[iii] https://en.m.wikipedia.org/wiki/Nation, 06/11/2022, 08:47AM PST.

[iv] https://www.humsub.com.pk/309217/mashkoor-anwar-baloch-4/, 06/11/2022, 09:33AM PST.

[v] قرآن مجيد، سوره الحجرات، ايت نمبر ۱۳

[vi] درياب، علي خېل،ډاکټر، د رڼاګانو سنګسار،ص ۱۰۹

[vii] هم دغه اثر، ص ۱۲۲

[viii] هم دغه اثر، ص ۱۳۲

[ix] هم دغه اثر، ص ۱۲۰

[x] هم دغه اثر، ص ۲۰۰

[xi] هم دغه اثر، ص ۳۱

[xii] هم دغه اثر، ص ۳۳

[xiii] هم دغه اثر، ص ۳۲

[xiv] هم دغه اثر، ص ۴۲

[xv] هم دغه اثر، ص ۱۵۵

[xvi] هم دغه اثر، ص ۱۵۹

[xvii] هم دغه اثر، ص ۱۲۵

[xviii] هم دغه اثر، ص ۲۰۱

[xix] هم دغه اثر، ص ۲۰۵

[xx] هم دغه اثر، ص ۲۱

[xxi] هم دغه اثر، ص۴۳

[xxii] هم دغه اثر، ص۴۵

[xxiii] هم دغه اثر، ص ۱۰۸

[xxiv] هم دغه اثر، ص ۱۲۹
[xxv] هم دغه اثر، ص ۲۰۵
[xxvi] هم دغه اثر، ص ۵۹
[xxvii] هم دغه اثر، ص ۹۷
[xxviii] هم دغه اثر، ص ۱۲۹
[xxix] هم دغه اثر، ص ۷۴
[xxx] هم دغه اثر، ص ۱۰۰
[xxxi] هم دغه اثر، ص ۱۱۵
[xxxii] هم دغه اثر، ص ۱۵۹
[xxxiii] هم دغه اثر، ص ۲۸
[xxxiv] هم دغه اثر، ص ۲۱

**References in Roman:**


1. Daryab, Ali Khel, Dr, dh ranragano sangsaar, aaraaf publishers, pekhawar, 2022, p. 25
2. Hum dagha asar, pp. 13,14
3. https://en.m.wikipedia.org/wiki/Nation, 06/11/2022, 08:47AM PST.
4. https://www.humsub.com.pk/309217/mashkoor-anwar-baloch-4/, 06/11/2022, 09:33AM PST.
5. Qur'an Majeed, Sorah al Hujrat, ayat no 13
6. Daryab, Ali Khel, Dr, dh ranragano sangsaar, p. 109
7. Hum dagha asar, p. 122
8. Hum dagha asar, p. 136
9. Hum dagha asar, p. 160
10. Hum dagha asar, p. 200
11. Hum dagha asar, p. 31
12. Hum dagha asar, p. 33
13. Hum dagha asar, p. 36
14. Hum dagha asar, p. 42
15. Hum dagha asar, p. 155
16. Hum dagha asar, p. 159
17. Hum dagha asar, p. 165

18. Hum dagha asar, p. 201
19. Hum dagha asar, p. 205
20. Hum dagha asar, p. 61
21. Hum dagha asar, p. 43
22. Hum dagha asar, p. 45
23. Hum dagha asar, p. 108
24. Hum dagha asar, p. 129
25. Hum dagha asar, p. 205
26. Hum dagha asar, p. 59
27. Hum dagha asar, p. 97
28. Hum dagha asar, p. 129
29. Hum dagha asar, p. 74
30. Hum dagha asar, p. 100
31. Hum dagha asar, p. 115
32. Hum dagha asar, p. 159
33. Hum dagha asar, p. 68
34. Hum dagha asar, p. 61